مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا
۲۰۲۳/۱۲/۰۷

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۰۶ پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**غرغر:** [1]: ۱۸ – ۳۴، ۱۵ – ۶۶: دا یو کلا واله کلی دی چې د دای کندي ۵۰ کورونه په کې دي او د «تل پیچ» [2] د ختیځ په ۳ مایلی کې موقعیت لري. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

**غرغره:** [3]: ۳۶ – ۳۴، ۳۱ – ۶۷ «ن»: دا د دایزنګي د سیمي په ختیځ کې په دراز قول کې د ۳۰ کورونو یو کلی دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه) په دې نامـﻪ یو بل ځای په ۱۹ – ۳۴، ۱۶ – ۶۶ «الف» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**غرګتک:** [4]: – ۳۴، – ۶۷: دا د هزاره جاتو د بهسودو د ولسوالي اداري مرکز او د ولسوال استوګنځای دی چې سید جعفر خان نومېـږي. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

**غریب:** دا د پولادي هزاره په سیمي کې یو ځای دی.

[1] -GHARGHAR
[2] -Talpech
[3] -GHARGHARA
[4] -GHARGOTAK


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **غریب راه:** ۱ – ۳۳، ۲۶ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**غرګی:** غریګي: [5]: دا د سپین غرهٔ په لویدیځ امتداد کې د شتر ګردن او «لکړې» [6] د کوتلونو تر منځ یو کوتل دی. ویل سوي چې له «هاریوب» [7] څخه کابل ته یوه مستقیمه لاره د دې کوتل له سره تیره سوې چې بیا د لوګر درې ته تاو سوې ده. (آی.بې. سي)

***غرسنګ:** [8]:: غارسنګ: ۱۵ – ۳۳، ۱۳ – ۶۷ «ن»: دا یو کلی دی چې د ارغنداب او د «امرستان» [9] درې سره نښلوي.

**غارو:** وګوره: تـنګي غارو[10]

* **غټکی:** [11]: ۳۲ – ۳۲، ۳۹ – ۶۷ «ن»: دا د ترنک د سیند د غاړې په اوږدو کې د شاه جوی او د «آبِ ایستاده» د جهیل تر منځ نیمایي لاره کې یو کلی دی.

**غاو غیزه:** غاوې ګزه: [12]: ۲ – ۳۴، ۳۴ – ۶۹ «ن»: دا د «لکړی» له لارې د حصارک او د «اسپاندو کڅ» [13] تر منځ له «سفید سنګ» څخه تر «هاریوب» پورې یوه دره ده. دا دره ۹ مایله اوږده ده او په سر کې ئـې د «غاوغیزک کوتل» [14] واقع دی؛ دا کوتل سخت دی خو ویل سوي چې د اوښانو د تګ لپاره عملي دی. د «غاو غیزه» دره په «ناصرخیلو غلزیو» [15] پورې اړه لري. (آی.بې. سي) اوسنی نقشې د «غاو ګزې» د کلي نوم ښیي. (لودویګ آدمک)

* **غواص:** [16]: ۳۱ – ۳۴، ۲۷ – ۶۷ «ن»: دا په «درهٔ شور شوري» [17] کې د «غرغرې» [18] په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.

* **غازه**: ۳۸ – ۳۴، ۰ – ۶۸ «ن»: دا د کابل په شمال لویدیځ او د پغمان په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

* **غضبي:** [19]: ۲۵ – ۳۴، ۵۶ – ۲۵ «ن»: دا د «باسول» [20] په شمال او د «ګوشتې» [21] په شمال ختیځ کې یوه ساحه ده.

---

[5] -GHARIGI
[6] - Lakarai
[7] -Hariob
[8] - GHARSANG
[9]- Amrestan
[10] -GHARU SeeTANGI GHARU
[11] -GHATKAI
[12] -GHAUGHIZA Or GHAWAY GUZA
[13] -Aspando Kats
[14] -Ghaughiza Kotal
[15] -Nasir Khel Ghilzais
[16] -GHAWAS
[17] - Dara -i- Shorshori
[18] - Gharghara
[19] - GHAZABI
[20] -Basawul
[21] -Goshta


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**غازي:** ۲۸ – ۳۴، ۳۳ – ۷۰: دا د جلال آباد دولسوالي د کامي په علاقه دارۍ کې يو کلی دی چې د کونړ د سيند د کيڼي غاړې په اوږدو کې د کونړ او د کابل د سيندونو د يو ځای کيدنې له ټکي څخه تقريباً ۲ مايله پورته يو کلی دی. استوګن وګړي: اعراب او صافيان. (جنکينز) په دې نوم يو بل ځای په ۳۸ – ۳۴، ۰ – ۶۹ «ن» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**غازي آباد:** ۱۹ – ۳۴، ۴۶ – ۷۰ «ن»: دا د جلال آباد د ولسوالي د «پيش بولک» په علاقه دارۍ کې په ديوالونو کې محصور يو لوی کلی دی؛ دا کلی د «چاردهي» د سويل ختيځ په ۱/۲ - ۱ مايلی کې او د «باسول» د شمال لويديځ په ۷ مايلی کې موقعيت لري. دا کلی ۵۰۰ کورونه لري او کليوال ئې جولاګان دي چې «په ۱۹۰۵ز کال کې ئې» تقريباً ۱۵۰۰ غواګاني، ۱۲۰۰ پسونه او وزې او ۲۰ ګاوميښې درلودلې. دلته کرهنه نـۀ ده سوې. (ميلسن، ونليس) په دې نوم يو بل ځای په ۴۳ – ۳۴، ۴۶ – ۷۰ «الف» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**غازي آباد**: ۵۷ – ۳۴، ۳ – ۷۰ «ج»: دا د اليشنګ د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې د لغمان په ولايت کې له جلال آباد څخه ۵۵ مايله ليرې يو کلی دی. دا کلی يوازې ۸ کورونه لري او استوګن وګړي ئـې «پشه ييان» دي. (ليچ) په دې نوم نور ځايونه په ۴۳ – ۳۴، ۴۶ – ۷۰ «ن» کې او په ۱۸ – ۳۴، ۴۶ – ۷۰ «ج» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**غازي بابا**: ۳۴، ـ ۷۰ : دا د اليشنګ او د الينګار د سيندونو د يو ځای کيدنې ټکي ته نېـږدې يو زيارت دی او هم «قلعـة السراج» [22] ته نېـږدې دی چې د سر تـېـرو د مؤقت پاتې کيدلو لپاره يو استحکامي ځای دی.

* **غازي خيل:** ۲۴ – ۳۴، ۳۹ – ۶۸ «ن»: دا د ميدان د سيند د يوې څانګې د غاړې په اوږدو کې د «نرخ» په شمال لويديځ کې يو کلی دی.

**غزنـي:** ۳۳ – ۳۳، ۳۵ – ۶۸ : دا د افغانستان په سويل ختيځ کې يو

**غزنـي:** ۳۳ – ۳۳، ۳۵ – ۶۸ : دا د افغانستان په سويل ختيځ کې يو ولايت چې ۳۲۷۹۷ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې د ۳۱۴۳۱۳ او ۴۱۴۱۲۸ تنو تر منځ چې بزګري پرګني دي اټکل سوی دی. دا ولايت په لويديځ کې له زابل، روزګان او باميانو او په شمال کې له ميدان «وردک»، په ختيځ کې له پکتيا او په سويل کې له پاکستان سره کرښه لری. غزني د: ناور، جغتو، مالستان، غزني، جاغوري، اندړ، مقر، قره باغ، شاران، کټواز، ناوه او د وازې خوا په ولسواليو او د «ول مامي»، «جاني خيلو»، «اومنه»، «سلطان خيلو»، « ګيرو»، «آب بند»، «خواجه عمري»، «زنه خان»، «دِه يک» او «يوسف خيلو» [23] په علاقه داريو ويشل سوی دی. د غزني د ولايت مرکز د «غزني» ښار دی. (لودويګ آدمک) د ولسواليو په هکله معلومات چې د کرهني او اوبو لګولو د وزارت د احصائيې د رياست له پلوه چمتو سوي دي وګورئ : راتلونکي شپږ جدولونه. غزني په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی: د غزني ولسوالي له شمال لوري له ميدان او بهسودو، له سويل لوري د مقر او کټواز له ولسواليو، له ختيځ لوري له لوګر، خروار او زرمت او له لويديځ

[22] - Kalut -us- Seraj
[23] -Wol- Mamai, Jani Khel, Omna, Sultan Khel, Giru, Ab Band, Gilan, Khwaja Omri, Zena Khan, Deh Yak, and Yusuf Khel

لوري له «پسِ کوه» او د هزاره گانو له نورو ,نیمه مستقلو سیمو؟ - ژ» [24] سره کرښه لري. غزني د غزني د سیند، د بر لوګر او د ګردیز د سیندونو په اوبو خړوبیـــږي.
د غزني لویدیځه برخه غزنی ده؛ د وردکو علاقه داري د لوګر او د هزاره د غرونو تر منځ یوه اوږده دره ده؛ ویل سوي چې د غزني پاتې برخه په عام ډول یوه بې قاعده دښته ده او ښه خړوبه ده چې په ډېـــریو برخو کې ئـې کرهڼه سوې ده؛ دلته او هلته ئـې شاړې بیدیاوې لیدل کـېـــږي چې په ځپاندو یا متموجو لوړو ژوررورو او په ټیټو، ډبرینو او وچو غرونو ئـې تنوع مونډلی دی. سویل او لویدیځ ته ئـې یوه لوړه غرنی لړی ده چې د «ګل کوه» [25] په نوم یادېـــږي؛ لویدیځ ته ئـې دې همدې غرنی لړی اساسي څوکي دي چې د «ماکو»، «کوهٔ سبز ناله»، «شاهتو» او «سیاه کوه» [26] په نومونو یادېـــږي؛ ختیځ ته ئـې غرونه د «کوهٔ جوز»، «سیاه کوه» «الا کوه؟ هلاکو – ژ» او «بابا عبدل» [27] په نومونو یادېـــږي.
اساسي سړکونه: د قلات غلزایي له لارې کندهار ته سړک، او کابل ته د میدان او یا د لوګر د درې له لارې سړک. دا سړکونه د هر ډول ځواک د تـېـــریدلو او د هر ډول وسلو د وړلو لپاره مناسب دي. همدا شان یک ولنګ ته یو سړک تللی دی او ویل کـېـــږي چې د بار وړونکو څارویو د تګ لپاره مناسب دی؛ او بل سړک هندوستان ته د «توچي» او «ګومل» [28] له لارې تللی دی چې دواړه لارې له عرابه لرونکو وسایطو پر ته نور د هر ډول ترافیک د تګ لپاره مناسب دی.
د غزني د استوګنو سیمو لوړوالی د ۶۵۰۰ تر ۹۰۰۰ فیټو تر منځ دی. په خپله غزني ۷۲۷۹ فیټه لوړ دی، د لوګر په خوا کي سید آباد ۸۶۳۰ فیټه او «مَـشَـــکي» [29] ۶۹۰۰ فیټه دی. د هزاره سیمه د لوی غزنی د لوړوالي په پرتلي د پام وړ لوړوالی لري چي لوړوالی ئـې د ګومان له مخي د ۶۰۰۰ تر ۱۱۰۰۰ فیټو پورې دی.
د دې ګزیټر یا د دې ژورنال د دوهم چاپ پربنسټ غزني د مالیاتي موخو لپاره په ۸ علاقه داریو ویشل سوی دی چي قومي ویش ئـې په دې ډول دی:
د غزني مالیاتي ویش: (۱) تاجیکان: عمدتاً تاجیک استوګني سیمه ده. دې فرعي څانګې کې د غزني ښارګوټی راځي. (۲) وردک: د وردک قبـیـله په کي استوګنه ده، دا هغه اوږده دره ده چې پورته مو یاده کړه. (۳) دای میرداد ، د غزني د ښارګوټي په شمال کي د وردک او بهسود تر منځ واقع ده او د وردکو، هزاره ګانو او قزلباشانو د ګډو قبـیـلو څانګي په کي استوګني دي. (۴) هزاره: دې کي د غزني لویدیځه برخه راځي؛ دلته د هزاره ګانو بـېـلابـېـلي قبیـلي استوګني دي. هغه هزاره ګان چي خپل مالیات غزني ته ورکوي دا دي: دای میرداد، جغتو، محمد خواجه او چهار دسته. (وګورئ د هزاره جاتو په هکله پوځي راپورې دوهمه برخه) (۵) علي خیل: دلته د غلزیو د علي خیلو څانګه استوګنه ده. (۶) تره کي: د غزني په سویلي کرښه کي: دلته د غلزیو د تره کي څانګه استوګنه ده. (۷) اندړ: دا د غزني په سویل ختیځ کي واقع ده، دلته اندړ غلزي استوګن دي. (۸): خروار، استوګن وګړي ئـې یوسف خیل او ګدای خیل غلزي دي. ( د ګریسباخ د راپور پر بنسټ: یوازې د خروار لویدیځ ویش د غزني خزاني ته خپل مالیات ورکوي.)

---

[24] -semi -independent Hazaras
[25] -Gul Koh
[26] -Maku, the Koh -i- Sabz -nala, the Shahtus, and the Siah Koh
[27] -Koh -i -Jaoz, the Siah Koh, the Allah- Koh, and the Baba Abdul.
[28] -Tochi and Gumal
[29] -Mashaki


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

غزني يوه مخ په ودي ولسوالي ده، حاصلخيزه ده، ډېــره ښه خړوبه سوې او ډېــره ښه کرل سوې ده. د غزني کلني ماليات په ۱۸۸۰ز کال کې په اوسط ډول تر ۹ لکو خامو روپيو يا ۶۵۰۰۰۰ برتانويو روپيو پورې رسيدل.

اقليم: په غزني کې باران معمولاً په مارچ او اپريل کې ورېــږي او په دې پسې عموماً له شمال لوري باد راځي. د غزني د اقليم عمده ځانګړتيا دا ده چې په ژمي کې ئې هوا زښته ډېــره سړه او په دوبي کې معتدله تودوخه لري. د غزني ژمى په نوامبر کې پيل او په مارچ کې پاى مومي چې د کابل تر ژمي ډېــر شديد دى. غزني کې تل ډېــره واوره ورېــږي. د مي او د جون د مياشتو په لړ کې اکثراً باد د وردکو له لوري راځي چې د شګو شديد او نا مطلوب توفانونه له ځان سره راوړي؛ دا توفانونه د ميوو لپاره ورانکاره دي. تبه په مني کې خپره سي او په همدې فصل کې کولرا هم راڅرګنده سي ؛ عموماً له هند څخه وروسته دلته هم کولرا راڅرګنده سي.

وګړي: د غزني د وګړو قومي ترکيب اکثراً له غلزيو جوړ دى (چې تر ډېــره په کې اندړ، تره کي او علي خيل دي) او ورپسې وردک، تاجيکان او هزاره ګان دي. د دوى تر څنګ درانيان او هندوان هم سته. په غزني کې د غلزيو اساسي څانګي ځانته جلا سيمي لري چې د همدې قبــيلي د څانګو په نومونو چې په کې استوګني دي، يادېــږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ




| د بزګرو پرګنو او تر کښت لاندې د ځمکو اټکل | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | کلي | بزګري پرګني | ځمکوال | ترکښت لاندې ځمکې په جریب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| اومنيه | ۷۸ | ۲۸۳۴۰ | ۳۵۸۰ | ۶۱۱۶۰ | ۳۴۹۰ | ۶۴۶۵۰ | ۱۲۳۲۳ | ۵۹۸ | ۱۲۹۳۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| انډر | ۲۱۳ | ۸۶۳۶۰ | ۴۴۰۰ | ۷۳۴۷۰ | ۲۰۹۹۰ | ۹۴۴۶۰ | ۱۴۶۹۴ | ۴۱۹۸ | ۱۸۸۹۲ |
| جاغوري | ۶۵ | ۹۸۸۰۰ | ۸۲۶۰ | ۳۹۴۷۰ | ۱۸۸۰ | ۴۱۳۵۰ | ۷۸۹۴ | ۳۷۶ | ۸۲۷۰ |
| جغتو | ۲۸۷ | ۶۲۴۶۰ | ۴۲۰۰ | ۷۵۸۴۰ | ۶۴۱۰ | ۸۲۲۵۰ | ۱۵۱۶۸ | ۱۲۸۲ | ۱۶۴۵۰ |
| شاران | ۷۴ | ۱۵۸۹۰ | ۸۸۰ | ۱۱۳۵۰ | ۲۲۷۸۰ | ۳۴۱۳۰ | ۲۲۷۰ | ۴۵۵۶ | ۶۸۲۶ |
| قره باغ | ۳۰۳ | ۸۸۵۷۰ | ۱۱۲۰۰ | ۹۷۹۲۰ | ۱۰۸۶۰ | ۱۰۸۷۸۰ | ۱۹۵۸۴ | ۲۱۷۲ | ۲۱۷۵۶ |
| مالستان | ۹۵ | ۶۶۴۶۰ | ۵۶۰۰ | ۴۴۳۴۰ | ۴۴۹۰ | ۴۸۸۳۰ | ۸۸۶۸ | ۸۹۸ | ۹۷۶۶ |
| کټه واز «زرغون ښار» | ۹ | ۴۰۲۰ | ۴۳۰ | ۳۱۴۰ | ۱۸۴۵۰ | ۲۱۵۹۰ | ۶۲۸ | ۳۶۹۰ | ۴۳۱۸ |
| مقر | ۸۰ | ۳۰۳۶۰ | ۴۵۱۰ | ۳۷۹۵۰ | ۳۱۶۰۰ | ۶۹۵۵۰ | ۷۵۹۰ | ۶۳۲۰ | ۱۳۹۱۰ |
| ناوه | ۵۴ | ۳۰۱۴۰ | ۲۴۴۰ | ۸۵۸۰ | – | ۸۵۸۰ | ۱۷۱۶ | – | ۱۷۱۶ |
| ناور «ناهر» | ۲۵۷ | ۵۳۴۳۰ | ۵۲۲۰ | ۳۱۲۷۰ | ۹۰۰۰ | ۴۰۲۷۰ | ۶۲۵۴ | ۱۸۰۰ | ۸۰۵۴ |
| واژه خوا | ۸۹ | ۱۱۹۳۰ | ۱۳۰۰ | ۲۹۰۰ | ۲۱۱۲۰ | ۲۴۰۲۰ | ۵۸۰ | ۴۲۲۴ | ۴۸۰۴ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| آب بند | ۵۱ | ۱۴۷۳۰ | ۱۵۹۰ | ۵۱۴۰ | ۵۳۲۰ | ۱۰۴۶۰ | ۱۰۲۸ | ۱۰۶۴ | ۲۰۹۲ |
| اومنه | ۲۱ | ۲۴۹۰ | ۲۶۰ | ۷۲۰ | ۱۰۴۰ | ۱۷۶۰ | ۱۴۴ | ۲۰۸ | ۳۵۲ |
| جاني خيل | ۲۸ | ۵۳۸۰ | ۶۴۰ | ۴۷۴۰ | ۵۶۲۰ | ۱۰۳۶۰ | ۹۴۸ | ۱۱۲۴ | ۲۰۷۲ |
| خواجه عمري | ۳۰ | ۱۴۱۸۰ | ۱۲۱۰ | ۲۳۹۷۰ | ۱۰۷۰ | ۲۵۰۴۰ | ۴۷۹۴ | ۲۱۴ | ۵۰۰۸ |
| خوشامند «بيله» | ۳۷ | ۷۶۷۰ | ۸۰۰ | ۶۹۷۰ | ۳۲۱۶۰ | ۳۹۱۳۰ | ۱۳۹۴ | ۶۴۳۲ | ۷۸۲۶ |
| دهٔ يک | ۵۰ | ۵۴۲۵۰ | ۳۵۵۰ | ۱۲۳۴۰ | ۱۴۶۵۰ | ۲۶۹۹۰ | ۲۴۶۸ | ۲۹۳۰ | ۵۳۹۸ |
| زن خان | ۳۳ | ۴۸۳۰ | ۵۳۰ | ۱۸۶۰ | ۴۲۸۰ | ۶۱۴۰ | ۳۷۲ | ۸۵۶ | ۱۲۲۸ |
| ګیرو اندړ | ۴۵ | ۱۸۱۸۰ | ۱۴۲۰ | ۸۵۴۰ | ۱۸۴۵۰ | ۲۶۹۹۰ | ۱۷۰۸ | ۳۶۹۰ | ۵۳۹۸ |
| ول مامي | ۳۹ | ۴۸۵۰ | ۵۶۰ | ۱۰۲۰ | — | ۱۰۲۰ | ۲۰۴ | — | ۲۰۴ |
| ګيلان | ۷۰ | ۱۹۲۸۰ | ۲۲۶۰ | ۱۴۴۰۰ | ۹۲۷۰ | ۲۳۶۷۰ | ۲۸۸۰ | ۱۸۵۴ | ۴۷۳۴ |
| يحيی خيل «سلطان خيل» | ۲۱ | ۸۷۷۰ | ۴۶۰ | ۱۳۰۲۰ | ۷۰۴۰ | ۲۰۰۶۰ | ۲۶۰۴ | ۱۴۰۸ | ۴۰۱۲ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| يوسف خيل | ١٠ | ٨٨۴٠ | ۵٣٠ | ٧٢٩٠ | ٩۴٨٠ | ١۶٧٧٠ | ١۴۵٨ | ١٨٩۶ | ٣٣۵۴ |
| ټولټال | ٢٠٣٩ | ٧۴٠٢١٠ | ۶۵٨٣٠ | ۵٨٧۴٠٠ | ٢۵٩۴۵٠ | ٨۴۶٨۵٠ | ١١٧۴٨٠ | ۵١٨٩٠ | ١۶٩٣٧٠ |

**د څارويو اټکل د ولسوالي او علاقه دارۍ پر بنسټ**

| ولسوالي | پسونه | قره قل پسونه | وزې | کورني څاروي | گاومیشي | اوبنان | آسونه | خرونه | کچرې | چرگان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اومنيه | ٣٢۴۴٠ | — | ١١١٠ | ١٢٧٩٠ | — | — | ١٣٠ | ۵٠٩٠ | — | ١٣۶٢٠ |
| اندړ | ۶۴٣٨٠ | — | ۶٧٠ | ١٨٢۴٠ | — | ۶٠ | ٢٣٠ | ٧۵١٠ | — | ٣١٣٢٠ |
| جاغوري | ١٣۶۶۵٠ | — | ٧١٩٠ | ٣١۴٣٠ | — | — | ١٨٠ | ۶٨۵٠ | — | ٢٨٩٨٠ |
| جغتو | ۶١١۴٠ | — | ١٨۶٠ | ١۴۴۵٠ | — | — | ١۶٠ | ۵۴۴٠ | — | ١٢۵٩٠ |
| شاران | ٢٧٨۶٠ | — | ٨٠ | ٩٢٨٠ | — | ٣٠ | ١١٠ | ٢۵٨٠ | — | ١١٧٩٠ |
| قره باغ | ۵۶١۶٠ | — | ٢٩۶٠ | ٣١٢۶٠ | — | ٢٠ | ١۶٠ | ۶٨۵٠ | — | ٢١٧۶٠ |
| مالستان | ٨٠١١٠ | — | ۶٨۶٠ | ١۶٧١٠ | — | — | ١۵٠ | ۵٧١٠ | — | ٢٢٣٨٠ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کټه واز «زرغون ښار» | ۱۰۸۲۰ | — | ۱۹۰ | ۸۱۴۰ | — | ۱۱۰ | ۲۰ | ۱۳۳۰ | — | ۲۲۴۰ |
| مقر | ۳۴۶۳۰ | — | ۱۷۹۰ | ۴۵۴۰ | — | ۱۶۰ | ۷۰ | ۳۹۶۰ | — | ۲۴۹۶۰ |
| ناوه | ۱۷۵۵۰ | — | ۶۳۰ | ۱۱۳۲۰ | — | — | ۳۰ | ۲۳۷۰ | — | ۱۴۲۰۰ |
| ناور «ناهر» | ۷۵۲۷۰ | — | ۵۳۲۰ | ۳۲۲۴۰ | — | — | ۴۵۰ | ۱۱۱۳۰ | — | ۵۲۰۰۰ |
| واژه خوا | ۵۰۸۸۰ | — | ۳۹۱۰ | ۸۹۴۰ | — | ۹۵۰ | ۳۰ | ۶۰۲۰ | — | ۶۴۳۰ |
| آب بند | ۲۱۶۳۰ | — | ۸۵۰ | ۹۳۹۰ | — | — | ۴۰ | ۱۸۸۰ | — | ۱۳۶۴۰ |
| اومنه | ۶۵۴۰ | — | ۱۱۲۰ | ۱۰۴۶۰ | — | ۱۷۰ | - | ۹۹۰ | — | ۹۳۰ |
| جاني خيل | ۱۰۷۱۰ | — | ۵۴۰ | ۷۷۵۰ | — | — | ۳۰ | ۱۲۵۰ | — | ۲۶۸۰ |
| خواجه عمري | ۸۳۹۰ | — | ۱۳۰ | ۹۰۵۰ | — | — | ۵۰ | ۱۵۵۰ | — | ۵۷۲۰ |
| خوشامند «يله» | ۳۸۹۹۰ | — | ۷۸۰ | ۸۴۶۰ | — | ۱۱۰ | ۹۰ | ۱۶۶۰ | — | ۱۳۵۹۰ |
| دهٔ يک | ۴۶۹۵۰ | — | ۱۵۶۰ | ۱۳۷۸۰ | — | — | ۷۰ | ۴۱۹۰ | — | ۳۱۲۶۰ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زن خان | ٣١٨٠ | — | ٧٩٠ | ٣٨٠ | — | — | — | ٢٦٠ | — | ١٩١٠ |
| گیرو اندر | ٢٠٦٠٠ | — | ١٨٠ | ٨٨٠٠ | — | — | ٥٠ | ١٩٥٠ | — | ٢٠٣٤٠ |
| ول مامي | ٩١٩٠ | — | ٣٨٠ | ٨٣٦٠ | — | ٩٠ | - | — | — | ١٥٠٠ |
| گیلان | ٢٩٩٥٠ | — | ١٠٩٠ | ١٠٤٥٠ | — | — | ٨٠ | ٣٤٤٠ | — | ٢٢٣٦٠ |
| یحیی خیل (سلطان خیل) | ٢٨٨٣٠ | — | ١٢٢٠ | ٩٥٩٠ | — | — | ٥٠ | ١٢٨٠ | — | ٢١٠٠ |
| یوسف خیل | ١٤٧٥٠ | — | ١٢٩٠ | ٧٨٨٠ | — | ١٠٠ | ٢٠ | ١٦٣٠ | — | ٣٦٠٠ |
| ټولټال | ٨٨٧٦٠٠ | — | ٤٢٥٠٠ | ٣٠٢٦٩٠ | — | ١٨٠٠ | ٢٢٠٠ | ٨٤٩٢٠ | — | ٣٦١٩٠٠ |

نور بیا

**د کرنیز تولید د حاصل اټکل – په کابلي جریب...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د بناغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی توک، دوېم توک، درېم توک، څلورم توک، او د پنځم تو: ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ